د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه

(ننگرهار)

# پنځه کلن ستراتیژیک پلان

## (۱۴۰۷-۱۴۰۳ لیږدیز لمریز)

اداره معیاری تحصیلات عالی طبی

A Standard Institution of Higher Education in Medical Sciences

د طبي لوړو زده کړو معیاري اداره

بسم الله الرحمن الرحيم

بسم الله الرحمن الرحیم

امارت اسلامی افغانستان

وزارت تحصیلات عالی

معینیت امور علمی

ریاست پلان، پالیسی و تقنین

آمریت تدوین، توحید و تطبیق پلان ها

عادی | عاجل | محرم | اشد محرم

شماره: ۵۴۰/۳۰۱

تاریخ: ۱۴۴۵/۱۲/۴ هـ ق

مطابق: ۱۴۰۳/۳/۲۲ هـ ش

به ریاست محترم مؤسسه تحصیلات عالی خصوصی سپین غر - ننگرهار!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته.

موضوع: بانیدی پلان استراتیژیک

عطف نامه شماره (181) مؤرخ 1445/11/3 هـ ق مطابق 1403/2/22 هـ ش آن مؤسسه تحصیلی محترم مینگاریم: پلان استراتیژیک ارسالی آن نهاد تحصیلی محترم در جلسه مؤرخ 1445/12/4 هـ ق مطابق 1403/3/22 هـ ش کمیته تخنیکی بازنگری و نهایی سازی پلان های استراتیژیک و گزارشات مورد بررسی قرار گرفت و چنین فیصله به عمل آمد:

- از اینکه پلان استراتیژیک مؤسسه تحصیلات عالی خصوصی سپین غر - ننگرهار در جلسه مؤرخ 1445/11/10 هـ ق شورای علمی آن نهاد تحصیلی طی پروتوکول شماره (14) مورد تصویب قرار گرفته است، بناءً از لحاظ فارمت و رهنمود وزارت تحصیلات عالی نیز تائید است.

موضوع جهت اطمینان و اجراآت بعدی به شما گسیل است.

با احترام

مفتی رضوان الله "......"

رئیس پلان، پالیسی و تقنین

کارته چهار - ناحیه سوم - کابل - افغانستان | www.mohe.gov.af | ۰۲۰۲۵۱۰۹۲۵

# لیکلــــړ

د مؤسسې د رئیس پیغام............ ٤
د کلیدي مفاهیمو پېژندنه ............ ٥
د ستراتیژیک مدیریت لپاره کارول شوی چارچوب ............ ٧
مقدمه (کلیات) ............ ٨
د مؤسسې اداري جوړښت او تشکیلات ............ ٩
زیربناء او اسانتیاوې............ ١٠
د پخوانیو ستراتیژیانو د موفقیت اندازه ............ ١٠
د پخوانیو ستراتیژیانو د عدم موفقیت عوامل............ ١٠
لرلید............ ١١
ماموریت............ ١١
ارزښتونه............ ١١
د مؤسسې ستراتیژیک اهداف............ ١٢
د اهدافو د درجه بندۍ سلسله مراتب ............ ٢٠
د ستراتیژیانو انتخاب............ ٢١
د ستراتیژیکو لومړیتوبونو تعینُ (تعین اولویت ستراتیژیک)............ ٢٣
لنډمهاله اهداف............ ٢٤
پنځه کلنه بودیجه............ ٢٥

# د مؤسسې د رئیس پیغام



بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحبه اجمعین.

دا یو څرګند حقیقت دی چې د ملتونو پرمختګ، بقاء او وروسته والی د تعلیمي او تحصیلي نظام د خدماتو کیفیت سره مستقیمه اړیکه لري. د لوړو زده کړو سکتور د هېواد ملکي او خصوصي سکتورونو ته د بشري سرچینو د وړاندې کولو او روزنې مسؤولیت لري. له دې کبله چې د هېواد بشري قوه په مسلکي پوهې سنبال او د اړینو مهارتونو لرونکې وي، د لوړو زده کړو سکتور باید د لوړو زده کړو وزارت د لومړیتوبونو پر بنسټ خپلې چارې داسې عیارې کړي چې د اړوندو معیارونو د تطبیق په برخه کې ګټورې واقع شي.

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په ننګرهار ولایت جلال اباد ښار کې تأسیس شوې ده، دا مهال درې (عمومي طب، غاښونو طب، طبي ټکنالوژي) پوهنځي لري چې په یادو پوهنځیو کې جمله (۱۵۳۴) محصلین په زده کړو بوخت دي.

د خدماتو د معیاریتوب او کیفیت ښه والي په موخه په مؤسسه کې د عملي زده کړو لپاره ۱۱ مجهز او فعال لابراتوارونو ترڅنګ، مجهز تدریسي روغتون او څېړنیز مرکز شتون لري.

په (۲۵/۰۱/۱۴۰۱) نېټه مؤسسې د تضمین کیفیت او اعتبار ورکونې پروسې دویم پړاو په بریالیتوب سره طی کړی دی.

دا مهال سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه د لوړو زده کړو وزارت د تقنیني سندونو او کیفیت د تضمین معیارونو تطبیق په موخه د څېړنې، تألیف او ژباړې معاونیت په شمول بشپړ اداري تشکیلات لري.

استادان د نظري او عملي تدریس ترڅنګ د علمي څېړنو په ترسره کولو بوخت دي؛ تر دې دمه د استادانو لسګونه علمي څېړنې په ملي او بهرنیو څېړنیزو مجلو کې نشر شوې دي او درسي کتابونه یې چاپ شوي دي. همدا راز، سره له دې چې د نجونو زده کړو تعطیل او د بهرنیو محصلینو فیسونو کموالي له کبله د مؤسسې مالي سرچینې ډېرې کمې شوې دي، د محصلینو عملي زده کړو، اسانتیاو پراختیا او محصلینو ملاتړ ته پاملرنه نده کمه شوې. د مؤسسې تدریسي روغتون د انکشاف او توسعې په حال کې دی، د عملي تدریس لپاره د لابراتوارونو شمېر او وسایل د زیاتېدو په حال کې دي او د محصلینو عملي مهارتونو ته ځانګړې پاملرنه کیږي.

مؤسسه د دې پلان د تطبیق له لارې غواړي چې په راتلونکو پنځو کلونو کې د روغتون ارتقاء، اعتبار اخستنې او نویو برنامو ایجاد سربیره په علمي، څېړنیزو چارو او اداري سستمونو کې د پام وړ مثبت تغیرات او پرمختګونه رامنځته کړي.

له دې لارې به د مؤسسې د اهدافو تحقق د لوړو زده کړو وزارت د عالي اهدافو په تحقق کې مُمد او تکمیلوونکی ثابت شوی وي.

شمس الدین همت

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې عمومي رئیس

# د کلیدي مفاهیمو پېژندنه

**برنامه**

برنامه د هغو فعالیتونو مجموعې ته ویل کیږي چې د معلوماتو پر بنسټ ټاکل شوي وي د خاصو اهدافو ترلاسه کولو لپاره په ترسره کیږي.

**ستراتیژي**

ستراتیژي د هغو کړنلارو او طرحو مجموعي څخه عبارت ده چې اهدافو ته د رسیدو لپاره د یو ځانګړي فکر او کار ځرنګوالی روښانه کوي.

**ستراتیژیکه برنامه**

ستراتیژیکه برنامه له هغو مراحلو څخه عبارت دی چې په هغې کې د تحصیلي اداري عمومي اهداف د پوهنځیو او دیپارتمنتونو په کچه د تطبیق په موخه وصل او مرتبط شوي وي.

**لرلید**

هغه ذخني او تخیلي تصویر دی چې اداره یې په اوږد مهال او لېرې راتلونکي کې د خپل ځان په اړه انځوروي.

**ماموریت**

ماموریت د یوې تحصیلي اداري د شتون داسې داعیې ته ویل کیږي چې له نورو څخه په متمایز ډول د خپل لرلید د تحقق لپاره کارول کیږي.

**ارزښتونه**

ارزښتونه هغه اعتقادي اصولو ته ویل کیږي چې د هغې پر بنسټ تحصیلي اداره خپل مسیر ته حرکت ورکړي او په ټولو چارو کې یې په رعایت باور لري.

**د داخلي عواملو ماترکس (IFE)**

دا د حقایقو پربنسټ ترتیب شویو هغو ارقامو جدول دی چې په هغې کې د تحصیلي اداري د قوت او ضعف برخې په کمي او کیفیت توګه داسې ذکر کیږي چې د اداري د داخلي حالت بیانګر اوسي. د دې ماترکس دوه عوامل د اداري په کنترول کې وي.

**د خارجي عواملو ماترکس (EFE)**

دا د حقایقو پربنسټ ترتیب شویو هغو ارقامو جدول دی چې په هغې کې د تحصیلي اداري د بهرنیو چاپېریال اړوند عـوامـلو (فرصتونه او ضعف برخې) په کمي او کیفیت توګه داسې ذکر کیږي چې د اداري د داخلي حالت بیانګر اوسي. د دې ماترکس دوه عوامل د اداري په کنترول کې وي.

# د کليدي مفاهيمو پېژندنه

### داخلي او خارجي ماترکس (IE)

د(IE)ماترکس د داخلي محيط او بهرني محيط اړوندو عواملو د مقايسې داسې يوه طـــــريقه ده چې له مخې يې تحصيلي اداره کولای شي خپل ځان ته ستراتيژيک راتلونکی تعين او غوره کړي.

### سوات (SWOT) ماترکس

دا هغه ماترکس دی چې د دې له لارې تحصيلي اداره کولای شي د داخلي محيط او بهرني محيط اړوند عوامل په متوازن ډول مطالعه او معلومه کړي د عواملو خپل منځي پرتلې او تحليل څخه د ستراتيژۍ په تطبيق کې څه ډول گټه پورته کړي.

### د قوت برخې

دا هغه ځانگړنې اوسرچينې دي چې تحصيلي اداره يې نظر نورو ادارو ته په امتيازي بهتر ډول او اندازه لري او گټه ترې پورته کوي.

### د ضعف برخې

دا هغه ځانگړنې اوسرچينې دي چې تحصيلي اداره يې نظر نورو ادارو ته په بدتر ډول او کمه اندازه لري او د خپلو خدماتو او چارو ښه ترسراوي پر وړاندې محدوديت گڼل کيږي.

### فرصتونه

ټولې هغه بهرنۍ پېښې چې د تحصيلي اداري لپاره گټه رسوونکي وې د فرصتونو په نوم ياديږي. دا هغـــه عوامــل دي چـــې د هغې کنترول د اداري په واک کې نه وي او په بهرني محيط کې د اقتصادي، ټولنيزو، سياسي او داسې نورو تغيراتو له کبله رامنځته کيږي.

### تهديدات

ټولې هغه بهرنۍ پېښې چې د تحصيلي اداري لپاره زيان رسوونکي وې د تهديداتو په نـــوم ياديږي. دا هغـــه عوامل دي چې د هغې کنترول د اداري په واک کې نه وي او په بهرني محيط کې د اقتصادي، ټولنيزو، سياسي او داسې نورو تغيراتو له کبله رامنځته کيږي.

# د ستراتیژیک مدیریت لپاره کارول شوی چارچوب

سپین غر د لوړو مؤسسې د پلان او پالیسۍ کمېټې د لوړو زده کړو وزارت د پلان پالیسۍ او تقنین ریاست هغه لارښود (رهنمــود) مطابق چې د ستراتیژیک پلان جوړونې لپاره ترتیب او تکثیر شوی دی، له مخې د مؤسسې لپاره لاندې پیشنهادي ماډل غوره کړی او کارولی دی:

## د ستراتیژیک مدیریت کارول شوی ماډل

مقدمه: د مؤسسې پېژندنه، د مؤسسې فعالیتونه، د مؤسسې پخوانۍ تګلارې

د لرلید ټاکل
د ماموریت ټاکل
د ارزښتونو ټاکل
د ستراتیژیکو اهدافو ټاکل

د لوړو زده کړو وزارت ستراتیژیک لومړیتوبونه او د چاپیریالیزو عواملو مطالعه

**داخلي او بهرني چاپیریالیز عوامل** / قوتونه، ضعفونه، فرصتونه او ګواښونه

**د لوړو زده کړو وزارت لس ګوني اهداف**

د ممکنه ستراتیژیو ټاکل
د لومړیتبو لرونکو ستراتیژیو ټاکل
ستراتیژیک لومړیتوب ټاکل
د لنډ مهاله اهدافو ټاکل

- کلنی کاري پلان
- د بودیجي جوړول
- مالي پلان جوړونه
- د خطر مدیریت
- د مؤسسې بیارغونه
- د مؤسسې د رهبرۍ ټاکلو طرز
- د سرچینو تعینول
- د اجرائیوي پالیسیو جوړول

**د ستراتیژیکو پروګرامونو څارنه او ارزونه**

د پلان د تدوین مرحله

د پلان د طبیق مرحله

د پلان د ارزونې مرحله

# مقـدمه (کلیات)

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه (ننگرهار) په ۱۳۸۸ هجري لمریز کال کې ایجاد او د لوړو زده کړو وزارت سره په نولسم (۱۹) مه گڼه ثبت ده. دې مؤسسې په پیل کې یو پوهنځی (معالجوي طب) درلود، د یو کال په تېرېدو سره د لوړو زده کړو وزارت د مثبتې ارزونې په پایله کې ورته د دوو نورو (ســـتوماتولوژي اوطبي تکنالوژي) پوهنځیو د فعالیت اجازه هم ورکړل شـــوه. عمومي طب د معالجوي طب دیپارتمنت، غاښـــــونو طب پوهنځی د ســـــــتوماتولوژي دیپارتمنت او طبي ټکنالوژي پوهنځی د عمومي دیپارتمنت لرونکي دي. سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه د لوړو زده کړو وزارت د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکونې ریاست لخوا ترسره شوې بهرنۍ مسلکي ارزونه کې د اعتبار اخستنې په دویم پړاو کې بریالۍ شوې ده. سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه د محصلینو معیاري زده کړو او روزنې په موخه جمله (۵۰) اداري کار کوونکي، (۱٦) خدماتي کار کوونکي، (۳۷) دایمي کادري استادان، (٦٦) قراردادي اسـتادان، ۱۱مجهز لابراتوارونه، عصري ۲۴ ساعته تدریسي او معالجوي روغتون، د عصـري ټکنالوژۍ او اړوندو وسائلو درلودونکی تحقیقاتي مرکز او نور اړین کاري او درسي او کاري اسانتیاوې لري.

د ۱۴۰۲ لمریز کال په خزاني سمستر کې د مؤسسې د محصلینو اړوند معلومات په لاندې ډول دي:

| گڼه | پوهنځی | دیپارتمنت | برحاله محصلینو شمېر | فارغانو شمېر |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | عمومي طب | معالجوي طب | 1056 | 218 |
| ۲ | غاښونو طب | ستوماتولوژي | 300 | 10 |
| ۳ | طبي ټکنالوژي | عمومي | 232 | 33 |
| جمله | | | 1597 | 261 |

## د پنځه کلنې بودیجې لنډیز


د ۱۴۰۲ لمریز کال لپاره سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننگرهار) عملیاتي بودیجه (٦۳۵۵۸۲۲۲) افغانۍ او انکشافي بودیجه (۸۵۳۷۰۰۰) تعین شوې ده.

## د استادانو علمي څېړنې او تألیفات

د ۱۴۰۲ لمریز کال تر پای پورې د استادانو لاندې شمېر لیکنې او څېړنې چاپ شوې دي:

- درسي کتابونه (۲۴)
- په بهرنۍ ژبه نړیوالو ژورنالونو کې نشر شوې مقالې (۲۲)
- په ملي ژبه نشر شوې مقالې (۲)

# د مؤسسې اداري جوړښت او تشکیلات



مؤسسه د علمي، محصلانو، اداري او مالي، څېړنو تألیف او ژباړې معاونیتونه لري. همدا راز درې پوهنځي يې پوره تشکیلات لري. برعلاوه، ټول اړین آمریتونه او مدیریتونه شتون لري.

# زیربناء او اسانتیاوې

مؤسسه د ۱۴۰۲ کال په پای کې د لاندې اسانتیاو لرونکې ده:

- د مؤسسې په ملکیت کې خپل تعمیر او ودانۍ
- ۱۱ لابرتوارونه
- مجهز تدریسي روغتون
- څېړنیز مرکز
- د علمي څېړنو تألیف او ژباړې معاونیت
- کتابتون
- ستوډیو
- مجهز اداري دفاتر او درسي خونې
- کمپیوټر لیب
- کانتین
- مسجد

# د پخوانیو ستراتیژیانو د موفقیت اندازه

د پخواني ستراتیژیک پلان (۱۳۹۸-۱۴۰۲) د ستراتیژیانو له جملې څخه لاندې یې په غوره توګه تطبیق شوي دي:

- د مؤسسې د خپلې ودانۍ اعمار
- د اعتبار اخستنې دویمې مرحلې طی کیدل
- د مدیریتي چارو لپاره د(ERP) سستم پېر او تطبیق
- د درسي اسانتیاو بهتروالی
- د کاري اسانتیاو بهتروالی
- د لابراتواري وسایلو ښه والی
- د څېړنیز مرکز او ستوډیو ایجاد

# د پخوانیو ستراتیژیانو د عدم موفقیت عوامل

د پخواني ستراتیژیک پلان (۱۳۹۸-۱۴۰۲) د ستراتیژیانو د نه تطبیق او عدم تحقق عوامل به لاندې توګه دي:

- د کادري بستونو اداري کار کوونکو تدریسي بوختیاو زیاتوالی
- د کار کوونکو غیر رقابتي ګُمارنې
- د اداري په تشکیلاتو کې ګړندي تغیرات او بدلونونه
- د اداري کار کوونکو او استادانو ظرفیت لوړونې ته څومره چې پکار وه رسیدګی نده شوې

## لرليد

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي چې د طبـــي لوړو زده کــړو په برخه کـــې د تدريس، نوښتونو او څېــړنو له لارې په ملي او سيمه ئيزه کچه د غوره علمي بنسټ په توګه وپېژندل شي.

## ماموريت

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسه د معياري تحصيلي نصاب، مجهزو لابراتوارونو او تدريســي روغتون، با تجربــه او مسلکي استـــادانو پر مټ د تدريس او څېړنو له لارې ټولنې ته داسې کادرونه وړاندې کوي چې د عامې روغتيا سکتور اړتياوې پوره کولای شي.

د مؤسسې د لرليد او ماموريت پورته ذکر شوي متنونه د لوړو زده کړو وزارت د پلان پاليسۍ او تقنين رياست لخوا د (۱۷۷۹/۱۶۱۷) ګڼه (۰۴/۱۱/۱۴۰۲) نېټه مکتوب له مخې تائيد شوي دي.

## ارزښتونه

سپين غر د لــوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار) په خپلو ټولو تحصيلي، اداري، مالي او حسابي، څېـړنيزو او عامه اړيکو اړوندو چارو کې په لاندې اصولو باور لري او ارزښت ورکوي:

## مسؤوليت پېژندنه

د مؤسسې هر اداري کار کوونکی، استاد، محصل او بهرني کاري شريکان پــه دې مکلف دي چې د خپلو مسؤوليتونو په محــدوده کې مؤسسه کې اړوندې چارې داسې ترسره کړي چې د کړنو د پايلو عواقب پکې په پام کې نيـــول شوې وي او د وظيفــوي تداخل سبب نه ګرځي.

## ديني او ملي شعايرو ته درناوی

مؤسسه د اسلامي شريعت احکامو، اوامرو او اصولو ته ارزښت ورکوي. همـــدا راز، د مؤسسې اداري کار کوونکي، استادان، محصلين او کاري شريکان د افغانستان ملي شعايرو ته په درناوي مکلف دي.

## د کيفيت تضمين او لوړاوی

مؤسسه په خپلو ټولو خدماتو او چــارو کې د کيفيت د تضمين او لوړونې لپــاره ډېــره پاملرنه کوي او په هر فعاليت کې اهداف، ترتيب، کړنلارې، تأثيراتو او پايلو ته ارزښت ورکوي.

## شفافيت او ځواب ورکونه

مؤسسه په داخلي او بهــرنيو چارو کې د خدماتو او کړنو په تړاو بشپړ شفافيـــت او ځــواب ورکولو باندې باور لري او په دې برخــه کې د اړوندو اصولو تطبيق او رعايت ته ارزښت ورکوي.

## عملي زده کړې او مهارتونه

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسه د اداري چارو، تدريس او تحقيق په برخو کې د کار کوونکو او محصلينو عملي زده کړو او مهارتونو ته ځانګړې ارزښت ورکوي او باور لري چې د کاري او زده کړيزو مهارتونو له لارې کار کوونکي او محصلين کولای شي اداري سره د اهدافو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي.

# د مؤسسې ستراتیژیک اهداف

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د ستراتیژیکو اهدافو په درجه بندۍ کې سلسله مـراتب په پام کې نیولي دي. دې اداري د خپـل پنځه کلن ستراتیژیک پلان د تدوین پر مهال له(A-Z Approach) څخه کار اخستنـــــی دی. په دې توګـه باید د تحصیلي اداري اهداف د لوړو زده کړو وزارت لپاره تکمیلوونکـــــي وي، د پوهنځیـــو اهـــداف باید د مؤسسې د اهدافو لپاره او د دیپارټمنت اهداف د پوهنځیو لپاره تکمیلوونکي وي. ټول استادان او اداري مسؤولیـــن باید په انفرادي توګـه د دیپارټمنتونو، پوهنځیـــو او مؤسسې اهدافو ترلاسه کولو لپاره په خپلو برخو کې اړوند فعالیتونه ترسره کړي تر څو د اداري اهداف تحقق ومومي.

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې ستراتیژیک پلان د تدوین کمېټې د دې ستراتیژیک پلان د ترتیب پر مهال د لوړو زده کړو وزارت ستراتیژیکو اهدافو په پام کې نیولو سره د راتلونکو پنځو کلونو (۱۴۰۳-۱۴۰۷ هجري شمسي) پـورې لانـدې ستراتیـــژیک اهداف ټاکلي دي:


1. د تحصیلي نصابونو تجدید، تطبیق او څارنه
2. د اداري او اکاډمیکو کار کوونکو ظرفیت لوړونه
3. د نویو علمي برنامو ایجاد
4. د محصلینو د مهارتونو او ظرفیتونو لوړونه
5. د مؤسسې او تدریسي روغتون ودانۍ او اسانتیاو پراختیا
6. د ټولنې په پرمختګ کې ونډه اخستنه
7. د معلوماتي ټکنالوژۍ پراختیا او کارونه
8. د عایداتو او مالي سرچینو مدیریت
9. د علمي څېړنو او تألیفاتو پرمختیا او پراختیا
10. په ملي او نړیواله کچه علمي فعالیتونو کې ونډه اخستنه

د مؤسسې ستراتیژیکو اهدافو په ټعین او ټاکلو کې له پورته څخه کښته خوا ته کړنلاره(A-Z Approach) باندې عمل شـوی دی. د لوړو زده کړو وزارت لومړیتوبونو او اهدافو پر بنسټ د مؤسسې اهـــداف ټاکل شوي دي، د مؤسسې اهدافو پر بنسټ د پوهنـځیو او په همدې توګه د لاندې(Flow Chart/Diagram)مطابق د پوهنځیو اهدافو پر بنسټ د دیپارټمنتــونو اهداف ټاکل شـــوي دي.

# د مؤسسې ستراتيژيک اهداف

| د (۱۴۰۳) کال ستراتيژيک اهداف | | | |
|---|---|---|---|
| ونډه | د فعاليتونو شمير | ستراتيژيک اهداف | ګڼه |
| 7.14% | 4 | د تحصيلي نصابونو تدوين، تجديد، تطبيق او څارنه | 1 |
| 12.50% | 7 | د مؤسسې او تدريسي روغتون ودانۍ او اسانتياو پراختيا | 2 |
| 14.29% | 8 | د علمي څېړنو او تأليفاتو پرمختيا او پراختيا | 3 |
| 16.07% | 9 | په ملي او نړيواله کچه علمي فعاليتونو کې ونډه اخستنه | 4 |
| 12.50% | 7 | د اداري او اکاډميکو کار کوونکو ظرفيت لوړونه | 5 |
| 7.14% | 4 | د محصلينو د مهارتونو او ظرفيتونو لوړونه | 6 |
| 12.50% | 7 | د معلوماتي ټکنالوژی پراختيا او کارونه | 7 |
| 7.14% | 4 | د ټولنې په پرمختګ کې ونډه اخستنه | 8 |
| 10.71% | 6 | د عايداتو او مالي سرچينو مديريت | 9 |
| 22.2% | 56 | فعاليتونو مجموعه /کال ونډه | |


## د (۱۴۰۳) ل.ل کال د ستراتيژيکو اهدافو د ونډې ګراف



# د مؤسسې ستراتيژيک اهداف

| د (۱۴۰۴) کال ستراتيژيک اهداف | | | |
|---|---|---|---|
| گڼه | ستراتيژيک اهداف | د فعاليتونو شمير | ونډه |
| 1 | د تحصيلي نصابونو تدوين، تجديد، تطبيق او څارنه | 3 | 6.38% |
| 2 | د مؤسسې او تدريسي روغتون وداني او اسانتياو پراختيا | 2 | 4.26% |
| 3 | د علمي څېړنو او تأليفاتو پرمختيا او پراختيا | 8 | 17.02% |
| 4 | په ملي او نړيواله کچه علمي فعاليتونو کې ونډه اخستنه | 6 | 12.77% |
| 5 | د اداري او اکاډميکو کار کوونکو ظرفيت لوړونه | 7 | 14.89% |
| 6 | د محصلينو د مهارتونو او ظرفيتونو لوړونه | 4 | 8.51% |
| 7 | د معلوماتي ټکنالوژۍ پراختيا او کارونه | 5 | 10.64% |
| 8 | د ټولنې په پرمختګ کې ونډه اخستنه | 3 | 6.38% |
| 9 | د عايداتو او مالي سرچينو مديريت | 7 | 14.89% |
| 10 | د نويو علمي برنامو ايجاد | 2 | 4.26% |
| | فعاليتونو مجموعه | 47 | 18.65% |


## د (۱۴۰۴) ل.ل کال د ستراتيژيکو اهدافو د ونډې گراف



# د مؤسسې ستراتيژيک اهداف

| د (۱۴۰۵) کال ستراتيژيک اهداف | | | |
|---|---|---|---|
| **ګڼه** | **ستراتيژيک اهداف** | **د فعاليتونو شمير** | **ونډه** |
| 1 | د تحصيلي نصابونو تدوين، تجديد، تطبيق او څارنه | 3 | 5.88% |
| 2 | د مؤسسې او تدريسي روغتون ودانۍ او اسانتياو پراختيا | 3 | 5.88% |
| 3 | د علمي څېړنو او تأليفاتو پرمختيا او پراختيا | 10 | 19.61% |
| 4 | په ملي او نړيواله کچه علمي فعاليتونو کې ونډه اخستنه | 6 | 11.76% |
| 5 | د اداري او اکاډميکو کار کوونکو ظرفيت لوړونه | 7 | 13.73% |
| 6 | د محصلينو د مهارتونو او ظرفيتونو لوړونه | 4 | 7.84% |
| 7 | د معلوماتي ټکنالوژۍ پراختيا او کارونه | 5 | 9.80% |
| 8 | د ټولنې په پرمختګ کې ونډه اخستنه | 3 | 5.88% |
| 9 | د عايداتو او مالي سرچينو مديريت | 7 | 13.73% |
| 10 | د نويو علمي برنامو ايجاد | 3 | 5.88% |
| | **فعاليتونو مجموعه** | **51** | **20.24%** |


## د (۱۴۰۵) ل.ل کال د ستراتيژيکو اهدافو د ونډې ګراف



# د مؤسسې ستراتيژيک اهداف

| د (۱۴۰٦) کال ستراتيژيک اهداف | | | |
|---|---|---|---|
| **ګڼه** | **ستراتيژيک اهداف** | **د فعاليتونو شمير** | **ونډه** |
| 1 | د نصابونو تدوين او تطبيق | 2 | 3.85% |
| 2 | د مؤسسې او تدريسي روغتون وداني او اسانتياو پراختيا | 3 | 5.77% |
| 3 | د علمي څېړنو او تأليفاتو پرمختيا او پراختيا" | 10 | 19.23% |
| 4 | په ملي او نړيواله کچه علمي فعاليتونو کې ونډه اخستنه | 9 | 17.31% |
| 5 | د اداري او اکاډميکو کار کوونکو ظرفيت لوړونه | 8 | 15.38% |
| 6 | د محصلينو د مهارتونو او ظرفيتونو لوړونه | 4 | 7.69% |
| 7 | د معلوماتي ټکنالوژی پراختيا او کارونه | 5 | 9.62% |
| 8 | د ټولنې په پرمختګ کې ونډه اخستنه | 3 | 5.77% |
| 9 | د عايداتو او مالي سرچينو مديريت | 7 | 13.46% |
| 10 | د نويو علمي برنامو ايجاد | 1 | 1.92% |
| | **فعاليتونو مجموعه** | 52 | 20.63% |


## د (۱۴۰٦) ل.ل کال د ستراتيژيکو اهدافو د ونډې ګراف



# د مؤسسې ستراتیژیک اهداف

| د (۱۴۰۷) کال ستراتیژیک اهداف | | | |
|---|---|---|---|
| گڼه | ستراتیژیک اهداف | د فعالیتونو شمیر | ونډه |
| 1 | د نصابونو تدوین او تطبیق | 2 | 4.35% |
| 2 | د مؤسسې او تدریسي روغتون ودانی او اسانتیاو پراختیا | 4 | 8.70% |
| 3 | د علمي څېړنو او تألیفاتو پرمختیا او پراختیا" | 10 | 21.74% |
| 4 | په ملي او نړیواله کچه علمي فعالیتونو کې ونډه اخستنه" | 8 | 17.39% |
| 5 | د اداري او اکاډمیکو کار کوونکو ظرفیت لوړونه | 7 | 15.22% |
| 6 | د محصلینو د مهارتونو او ظرفیتونو لوړونه | 4 | 8.70% |
| 7 | د معلوماتي ټکنالوژی پراختیا او کارونه | 5 | 10.87% |
| 8 | د ټولنې په پرمختګ کې ونډه اخستنه | 3 | 6.52% |
| 9 | د عایداتو او مالي سرچینو مدیریت | 3 | 6.52% |
| | **فعالیتونو مجموعه** | 46 | 18.25% |
| | **د پنځو کلونو د فعالیتونو مجموعه** | 252 | |


## د (۱۴۰۷) ل.ل کال د ستراتیژیکو اهدافو د ونډې گراف



# د مؤسسې ستراتیژیک اهداف

| | | | |
|---|---|---|---|
| د پنځه کلن ستراتیژیک پلان د لومړیتوبونو ونډه | | | |
| گڼه | ستراتیژیک اهداف | د فعالیتونو شمیر | ونډه |
| 1 | نصابونو تجدید، تطبیق | 14 | 5.56% |
| 2 | د اسانتیاو ساتنه پراختیا | 19 | 7.54% |
| 3 | څیړنې، تالیف او ژباړې | 46 | 18.25% |
| 4 | ملي او نړیوال فعالیتونه | 38 | 15.08% |
| 5 | کارکوونکو ظرفیت لوړونه | 36 | 14.29% |
| 6 | محصلینو ظرفیت لوړونه | 20 | 7.94% |
| 7 | معلوماتي تکنالوژۍ پراختیا | 27 | 10.71% |
| 8 | ټولنه کې ونډه اخیستنه | 16 | 6.35% |
| 9 | د مالي سرچینو موثره مدیریت | 30 | 11.90% |
| 10 | د علمي برنامو پراختیا | 6 | 2.38% |


## د پنځه کلن ستراتیژیک پلان لومړیتوبونو د ونډې گراف



# د مؤسسې ستراتیژیک اهداف

| په ستراتیژیک پلان کې د پنځو کلونو ونډه | | | |
|---|---|---|---|
| کلونه | د اهدافو شمیر | د فعالیتونو شمیر | دکال ونډه |
| ۱۴۰۳ ل.ل کال | 9 | 56 | 22.22% |
| ۱۴۰۴ ل.ل کال | 10 | 47 | 18.65% |
| ۱۴۰۵ ل.ل کال | 10 | 51 | 20.24% |
| ۱۴۰٦ ل.ل کال | 10 | 52 | 20.63% |
| ۱۴۰۷ ل.ل کال | 10 | 46 | 18.25% |

## په ستراتیژیک پلان کې د پنځو کلونو ونډه



# د اهدافو د درجه بندۍ سلسله مراتب (A-Z Approach)



# د ستراتیژیانو انتخاب

وروستـــــــه له دې چې د محیطـــــي عواملو مطالعــــه ترسره شوه او د مؤسســــــې په (IE) ماترکس کــې مونږ تـــه ستراتیژیک لید (Strategic Direction) څرګند شو او د هغو ممکنو ستراتیژیانو په اړه چې مؤسسه د هغې له جملې یوه غوره کـولای شي، معلومات وشول؛ اوس مونږ کولای شو هغه کړنلارې تعین کړو چې د هغې په کارولو سره مؤسسه اوږد مهاله اهداف ترلاســه کولی شي. دا کړنلارې به د مؤسسې، پوهنځي او دیپارتمنت په کچه ټاکل کیږي.

د کړنلارو نوعیت او موده په لاندې ډول ده:

– د مؤسسې په کچه د کړنلارو موده به له درې څخه تر پنځو کلونو پورې وي

– د مؤسسې د معاونیتونو او پوهنځیو په کچه د کړنلارو موده به له یو څخه تر درې کلونو پورې وي

– د آمریتونو او مدیریتونو په کچه کړنلارو موده به له یو څخه تر دوه کلونو پورې وي

څرنګه چې د لوړو زده کړو وزارت ستراتیژیک لومړیتوبونه په پنځو لویو برخو ویشل شوي او له شلو څخه زیاتو مواردو تـه شامل دي، سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي چې د لوړو زده کړو وزارت د ستراتیژیکو لومړیتوبونو، داخلي محیط او بهرني محیط په اړه د اړوند شاملو خواو له نظرونو وروسته لاندې موارد تطبیق کړي او په دې برخه کې مشخصې لاسته راوړنــې او مثبت تغیرات ولـري:

## ۱. د تحصیلي نصابونو تدوین، تجدید، تطبیق او څارنه

ا.  د تحصیلي نصابونو تدوین

ب. د تحصیلي نصابونه بیا کتنه

ت. د تحصیلي نصابونو تطبیق

## ۲. د استادانو او اداري کار کوونکو ظرفیت لوړونه

ا.  د اکاډمیکو کار کوونکو د ظرفیتونو لوړونه

ب. د اداري کار کوونکو د ظرفیتونو لوړونه

## ۳. د نویو علمي برنامو ایجاد

ا.  د نویو دیپارټمنتونو ایجاد

ب. د نویو پوهنځیو ایجاد

ت. د فوق لیسانس برنامو ایجاد

## ٤. د محصلینو د مهارتونو او ظرفیتونو لوړونه

ا.  د محصلینو د مهارتونو لوړاوی

ب. د محصلینو د ظرفیتونو لوړاوی

# د ستراتیژیانو انتخاب

## ۵. د مؤسسې او تدریسي روغتون ودانۍ او اسانتیاو پراختیا

ا. د تدریسي روغتون د اسانتیاو انکشاف او پراختیا

ب. د مؤسسې د ودانۍ او اسانتیاو پراختیا

## ٦. د ټولنې په پرمختګ کې ونډه اخستنه

ا. د روغتیا په اړه د عامه پوهاوي زیاتوالی

ب. محصلینو او ادارو سره همکارۍ

## ۷. د معلوماتي ټکنالوژۍ پراختیا او کارونه

ا. د (ERP) سستم بشپړ تطبیق

ب. د ټکنالوژیکي وسائلو کارونه

## ۸. د عایداتو او مالي سرچینو مدیریت

ا. د عوایدو زیاتوالی

ب. د لګښتونو کنټرول

## ۹. د علمي څېړنو او تألیفاتو پرمختیا او پراختیا

ا. د علمي تحقیقاتو انکشاف

ب. د علمي تألیفاتو او ژباړو پراختیا

## ۱۰. په ملي او نړیواله کچه علمي فعالیتونو کې ونډه اخستنه

ا. ملي ادارو سره د اړیکو پراختیا

ب. بهرنیو ادارو سره د اړیکو پراختیا

# د ستراتیژیکو لومړیتوبونو تعینُ (تعین اولویت ستراتیژیک)

وروسته له هغې چې د مؤسسې لپاره ستراتیژیک لومړیتــوبونه معلــوم شول، اوس مؤسسه بایــد د همغو لومړیتوبونو ترلاسه کولو لپاره داسې برنامې وټاکي چې په اوږد مهال کې یې په ترلاسه کولوسره ټاکل شــوې ستراتیژیانې تحقق ومــومي یا (Realize) شي.

د مؤسسې د ستراتیژیکو لومړیتوبونو ترلاسه کولو لپاره به له لاندې جدول څخه ګټه پورته کیږي:

| ګڼه | ستراتیژیک لومړیتوب | اوږد مهاله کړنلاره | برنامه |
|---|---|---|---|
| 1 | د تحصیلي نصابونو تدوین، تجدید، تطبیق او څارنه | أ. د تحصیلي نصابونو تدوین<br>ب. د تحصیلي نصابونه بیا کتنه<br>ت. د تحصیلي نصابونو تطبیق | • د کلینیکي او لابراتوراي تطبیقاتو طرزالعمل<br>• د روغتون عملي کارونو اجرائیوي لارښود<br>• د تحصیلي نصابونو د تدوین او مهالني کولو لارښود |
| 2 | د اداري او اکاډمیکو کار کوونکو ظرفیت لوړونه | أ. د اکاډمیکو کار کوونکو د ظرفیتونو لوړونه<br>ب. د اداري کار کوونکو د ظرفیتونو لوړونه | • د اداري کار کوونکو د ظرفیت لوړونې پلان<br>• د اداري کار کوونکو د ظرفیت لوړونې پلان |
| 3 | د نویو علمي برنامو ایجاد | أ. د نویو دیپارټمنتونو ایجاد<br>ب. د نویو پوهنځیو ایجاد<br>ت. د فوق لیسانس برنامو ایجاد | • د برنامو د ایجاد اړتیا ارزونه<br>• د کادري غړو او اداري کار کوونکو ګُمارنه |
| 4 | د محصلینو د مهارتونو او ظرفیتونو لوړونه | أ. د محصلینو د مهارتونو لوړاوی<br>ب. د محصلینو د ظرفیتونو لوړاوی | • د محصلینو د ظرفیت لوړونې کلنی اکشن پلان<br>• د ظرفیت لوړونې برنامو د تطبیق طرزالعمل<br>• د محصلینو د مهارتونو او ظرفیت لوړونې برنامو اړتیا ارزونې پایلې |
| 5 | د مؤسسې او تدریسي روغتون ودانۍ او اسانتیاو پراختیا | أ. د تدریسي روغتون د اسانتیاو انکشاف او پراختیا<br>ب. د مؤسسې د ودانۍ او اسانتیاو پراختیا | • د نوې ودانۍ ډیزاین شوې نقشه او بودیجه<br>• د جمنازیون ډیزاین شوې نقشه او بودیجه<br>• د پارکنګ ډیزاین شوې نقشه او بودیجه<br>• د کتابتون ډیزاین شوې نقشه او بودیجه<br>• د آډیتوریم ډیزاین شوې نقشه او بودیجه |
| 6 | د ټولنې په پرمختګ کې ونډه اخستنه | أ. د روغتیا په اړه د عامه پوهاوي زیاتوالی<br>ب. محصلینو او ادارو سره همکاری | • د صحت لارښود تدوین، چاپ او نشر<br>• د (Health Card) اجراء او توزیع<br>• د تخفیفونو طرزالعمل تطبیق |
| 7 | د معلوماتي ټکنالوژی پراختیا او کارونه | أ. د (ERP) سستم بشپړ تطبیق<br>ب. د ټکنالوژیکي وسائلو کارونه | • د ټکنالوژي څخه د ګټه اخستنې طرزالعمل تطبیق<br>• د معلوماتي ټکنالوژی د پراختیا پلان |
| 8 | د عایداتو او مالي سرچینو مدیریت | أ. د عوایدو زیاتوالی<br>ب. د لګښتونو کنټرول | • د پوهنځیو د پروموشن پلان<br>• د مالي پلانونو او بودیجو مؤثر تطبیق |
| 9 | د علمي څېړنو او تألیفاتو پرمختیا او پراختیا | أ. د علمي تحقیقاتو انکشاف<br>ب. د علمي تألیفاتو او ژباړو پراختیا | • د کتاب لیکنې لارښود (رهنمود) تطبیق<br>• د علمي څېړنو لارښود (رهنمود) تطبیق<br>• د څېړنې، تألیف او ژباړې معاونیت انکشافي پلان<br>• د علمي څېړنو د ملاتړ، کتنې او نشر پالیسي |
| 10 | په ملي او نړیواله کچه علمي فعالیتونو کې ونډه اخستنه | أ. ملي ادارو سره د اړیکو پراختیا<br>ب. بهرنیو ادارو سره د اړیکو پراختیا | • د توامیتونو د ایجاد، ساتنې او پراختیا پالیسۍ تطبیق<br>• د توامیتونو اوږدمهاله انکشافي پلان تطبیق |

# لنډمهاله اهداف

د پنځه کلنو اهدافو څخه به مؤسسه په کلني ډول د ستراتیژیک پلان تطبیقي پلان لپاره اهداف او فعالیتونه ټاکي او په دوامدار ډول به یې تطبیقوي. د هر کال تطبیقي پلان له تطبیق څخه په ربعوار ډول نظارت ترسره کیږي او د تطبیـــقي پلان د تطبیـــق راپورونه به د مؤسسې علمي شورا ته وړاندې کیږي. د همدغو لنډ مهاله اهدافو او فعالیتونو دوامدار ترسراوی به د دې سبب شي چې پنځـه کلونه وروسته مؤسسه هغه ستراتیژیک حالت ته ورسیږي چې په دې پلان کې یې د عیني معلوماتو پر بنسټ ځان لپاره ټاکلـی دی. لنډ مهاله اهداف هغه اهداف دي چې ترلاسه کول یې په حد اکثر ۱۸ میاشتو کې ممکن وي.

د مؤسســـې لوی لنډمهاله اهـــداف په لاندې ډول دي:

1. د کتابتون پراختیا
2. د تدریسي روغتون پراختیا او ارتقاء
3. د نوي آډیتوریم جوړول
4. د علمي-څېړنیزې مجلې اعتبار لیک ترلاسه کول
5. د تحصیلي نصابونو اصلاح او مهالني کول
6. د بشپړ اکاډمیک اعتبار ترلاسه کول
7. د محصلینو عملي کارونو کیفیت لوړاوی

# پنځه کلنه بودیجه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د دې پـــلان د تطبیق په موخـــه لاندې ذکر شوې بودیجه ترتیـــب او تائید کړې ده. یاده بودیجه د مؤسســـې امناء هیئت او علمـــي شورا لخوا تائید شوې ده. څرنګه چې د ستراتیـــژیک پلان په کلني فعالیتونو کې د بهرنیو عواملو له کبله تغیرات ممکن دي، په همدې توګه د بیرونیو عواملو له کبله په بودیجه کې هم تغیـرات ممکـن دي. دا تغیرات په کلني ډول د قانوني غوښتنو، سکتوري وضعیت او مؤسسې حالت ته په کتو واقع کیږي.

په پنځه کلنه بودیجه کې د پلان د تطبیق لپاره بشري، ټکنالوژیکي ، فزیکي او مالي سرچینې په پام کې نیول شوي دي. د محصلینو شمېر، فیسونو، توکو او خدماتو کې د نرخونو لوړوالی (انفلاسیون) په پام کې نیول شوي دي.

د ستراتیژیک پلان د تطبیق پنځه کلنه بودیجه په لاندې توګه ده:

| ګڼه | ستراتیژیک هدف | کلونه | | | | | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | 1403 | 1404 | 1405 | 1406 | 1407 | |
| 1 | د تحصیلي نصابونو تدوین، تجدید، تطبیق او څارنه | 350000 | 400000 | 450000 | 500000 | 600000 | |
| 2 | د اداري او اکاډمیکو کار کوونکو ظرفیت لوړونه | 130000 | 150000 | 200000 | 230000 | 250000 | |
| 3 | د نویو علمي برنامو ایجاد | --- | 700000 | 750000 | 850000 | — | |
| 4 | د محصلینو د مهارتونو او ظرفیتونو لوړونه | 350000 | 400000 | 450000 | 500000 | 550000 | |
| 5 | د مؤسسې او تدریسي روغتون ودانۍ او اسانتیاو پراختیا | 7112000 | 7612000 | 9112000 | 9612000 | 10112000 | |
| 6 | د ټولنې په پرمختګ کې ونډه اخستنه | 950000 | 1000000 | 1100000 | 1150000 | 1200000 | |
| 7 | د معلوماتي ټکنالوژۍ کارونه | 500000 | 600000 | 650000 | 700000 | 750000 | |
| 8 | د عایداتو او مالي سرچینو مدیریت | 500000 | 550000 | 600000 | 650000 | 750000 | |
| 9 | د علمي څېړنو او تألیفاتو پرمختیا او پراختیا | 780000 | 880000 | 930000 | 1030000 | 1080000 | |
| 10 | په ملي او نړیواله کچه علمي فعالیتونو کې ونډه اخستنه | 450000 | 500000 | 600000 | 650000 | 800000 | |
| | **کلني جمله بودیجه** | **11122000** | **12792000** | **14842000** | **15872000** | **16092000** | |
| | **د کلونو په تفکیک د بودیجې تخصیص** | **16%** | **18%** | **21%** | **22%** | **23%** | |
| | **پنځه کلنه جمله بودیجه** | **70720000** | | | | | |

د مؤسسې پورته ذکر شوی پنځه کلن (۱۴۰۳-۱۴۰۷) ستراتیژیک پلان د پلان او پالیسی اصلي کمېټې په (۱۴۰۲/۱۱/۰۲) نېټه جلسه کې د رایو په اکثریت تائید او د یادې کمېټې په (۰۹) گڼه پروتوکول کتاب کې ثبت دی.

د کمېټې د مسؤول لاسلیک

د کمېټې د منشي لاسلیک

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې دا پنځه کلن (۱۴۰۳-۱۴۰۷) ستراتیژیک پلان د مؤسسې په (۱۴۰۲/۱۱/۱۰) نېټه علمي شورا کې د مؤسسې د رئیس لخوا وړاندې او د شورا د رایو په یووالي سره تائید شو چې د شورا په (۱۴) گڼه پروتوکول کې ثبت دی.

د شورا د مشر لاسلیک

د شورا د منشي لاسلیک

د مؤسسې پنځه کلن (۱۴۰۳-۱۴۰۷) ستراتیژیک پلان د مؤسسې د أمناء هئیت په (۱۴۰۲/۱۱/۱۱) نېټه جلسه کې د رایو په یووالي تائید او په (۰۴) گڼه پروتوکول کې ثبت دی.

د أمناء هیئت د مشر/رئیس لاسلیک

د لوړو زده کړو وزارت پلان او پالیسی ریاست له کمنټونو وروسته د مؤسسې پورتنی اصلاح شوی ستراتیژیک پلان د مؤسسې په (۱۴۰۳/۰۱/۲۹) نېټه (۰۲) گڼه علمي شورا کې د رایو په اکثریت تائید او ثبت دی.

د شورا د مشر لاسلیک

د شورا د منشي لاسلیک